# د عزیز الرحمان عزیز د شاعرۍ فکري جاج

# Thematic Study of Aziz ur Rehman Aziz's poetry

Issn 2304-1463

1: Dr Faqir Muhammad Faqir

Lecturer Pakhtunkhwa Study Center

2: Dr Kiran Seeneen

Director pakhtunkhwa Study Center

Abstract:

Professor Aziz ur Rehman Aziz was born in Agra India in 1948 .Basically he belong to the tribe of Hashim Khel of Swat but they were migrate to Hazara after coming from India.He got his early education in gajborai Middle School and Metric from Batagram High school. After matriculation he went to Karachi, where he work as a laboure.During performing his duty in a factory he continue his education too as private candidate. As will as he also takes part in literary activities. He passed F.A, B.A and M.A during his private job in Karachi. Then he came back to batagram and started service as Scholl teacher. After some time he Appointed as 1st Pashto lecture in Hazara region. He also performed his duties as secretory with several ministers and section officer.

In his literary contributions two books of poetry are publish, one is "Tandar" and other is" Khawre umeedona".we will discuss the thematic study of his poetry. His poetry mainly contains religious thoughts, Nationalism, Realism and progressive approach.

Key Words: Life and work of Aziz ur Rehman Aziz, Nationalism, Religious and progressive poetry.

عزیزالرحمان عزیز د علمي،مذهبي او ادبي کورنۍ سره تعلق لرلو . په ۱۹۴۸ کښې اګره کښې د مولانا غازي اکبر کره پېدا شوے دے.د نیکۀ نوم یې مولانا علي احمد وو .بنیادي تعلق یې د سوات هاشم خېلو سره دے خو بټګرام کښې یې استوګنه اختیار کړې وه . بیا له هندوستانه هزارې ګجبوړۍ ته راغلل او دلته پاخۀ مېشته شول. تر مډل پورې تعلیم یې ګجبوړۍ او لسم یې په ۱۹۶۶ کښې د ګورنمنټ هائي سکول بټګرام نه پاس کړے دے . (1)د لسم نه پس د کار روزګار د پاره کراچۍ کښې مېشته شو.د مزدورۍ سره سره یې ادبي هلې ځلې هم جاري وساتلې .شاعري خو دوي د کم عمرۍ نه کوله خو په ۱۹۷۵ کښې یې د تندر په نوم کتاب د باب الاسلام

پرېس کراچۍ نه چاپ شو. (2)دغه دوران کښې يې پښتو ادبي ټولنه د نورو شاعرانو په ملګرتيا کښې جوړه کړه چې دې يې جنرل سېکرټري وو.

عزيز الرحمان عزيز خود ساز سېلف مېډ انسان وو او د مزدورۍ سره يې د تعليم سلسله هم جاري ساتلې وه.(3)په ۱۹۷۷ کښې د کراچۍ نه راغلو او د سرکاري استاذ په حېث نوکر شو. په ۱۹۸۵ کښې د هزارې نه د پښتو د اولنې ليکچرر اعزاز هم ورته حاصل دے. (4)د دې نه مختلفو وزيرانو سره د سېکرټري،د سېکشن افسر په حېث هم پاتې شوے دے.

د عزيز الرحمان عزيز بنيادي پېژنګلو د استاذ په حېث ده. استاذ هغه هستي وي چې د ذهنونو تيرې رڼا کوي او د روښانه فکرونو ډيوې بلوي. استاذ ګمان په يقين بدلوي او د نا اهلو نه سړي جوړوي. د شفقت خوږلت سره د الهام داسې کلام لري چې د شائستګۍ او نزاکت همه اهتمام لري. د استاذ احساس د ټولنې او انسانيت اساس وي ځکه د لوړ افتخار وي او روحاني پلار وي. د نوي کول ځوکيدار او د قوم معمار وي. هم دغه مقام او مرام د عزيز صېب هم دے. ځنګه چې يې عملي ژوند د معاشرې د تربيت او خدمت نه عبارت دے دغه يې د شاعري هم روايت دے.

عزيز الرحمان عزيز په شاعرۍ کښې د مقصديت قائل دے او دومره قائل دے چې د سړي ذهن او فکر روښانه کړي او سترګې يې رڼا کړي. د خپل چاپېرچل رښتونے ترجمان دے. ژبه يې ساده ، روانه او عام فهمه ده. د شاعرۍ مثال يې د غرۀ د چينې دے چې روښوالې يې د خوږوالي نه زيات دے او خوږوالې د روښوالي نه سېوا دے. د حق او صداقت داظهار همه رنګونه او خوندونه لري. د معاشرې د اصلاح اخلاقي روزنې او د نوي کول د تربيت او لار ښودنې کلهم صفتونه لري.

مذهبي او علمي وراثت او ادبي نزاکت يې د فکر او فن په وحدت شاعرۍ ته ډېر عجيب او نجيب عظمت بخښلے دے. په پښتنه ټولنه کښې د ايجابي قدرونه د روايت ساتلو او له سلبي قدرونو قدرونو بغاوت يې د شاعرۍ مقصديت ښکاره کوي. د خپل شعور په زور او فکري

انځور د مات ګوډ تهذیب د پښتو نه غنې اوباسي او د سمون لارې چارې یې هم برابروي۔د هغوي په اسلامي تاریخ،عصري حالاتو ،معاشرتي لري بري ،عالمي او ملکي سیاست ژور نظر او وسیعه تجربه لري۔او ددې هر څهٔ باره کښې په عملي او فکري خواله خپل روښانه خیال هم لري ۔ ادب صرف د تفریح سامان نهٔ ګڼي د ژوند د مسئلو تفسیر، د حقیقت تصویر یې ګڼي۔ترقي پسند او انقلابي بصیرت څلوي۔(5)

د مذهبي،اصلاحي،اخلاقي ،قامي ،وطني او رومانوي شاعرۍ سره حقیقت پسندي او ترقي پسندي هم لري ۔فکر سره د هنر خوارۀ یې هم کم نهٔ دي ۔ د متلونو ،محاورو ،ترکیبونو ،تخیل او تغزل نزاکتونه لري ۔د ژبې په استعمال پوهیږي او لفظونو له د خپلې مرضۍ نوې نوې معنې ورکولو چل ورځي۔

د عزیز الرحمان په شاعرۍ اولسي رنګ غالب دے۔ټپه،چاربېته ،لوبې او قطعې یې هم لیکلي دي۔او څنې نظمونه یې د ټپو په هیت کښې هم دي چې دا نوښت یا روایت ما د بل چا نهٔ دے لیدلے لکه سي ډیوټي او جابر او کاریګر نظمونه۔ددې نه علاوه غزلې او جدید نظمونه هم شته۔

اسماعیل ګوهر د دوي د شاعرۍ باره کښې لیکي:

"د خدا ے بخښلي عزیز الرحمان عزیز شاعري زمونږ د روایتي شاعرۍ تسلسل دے چې د عام اولس د جذبو او احساساتو ښغ په ښغه ترجماني کوي ۔غزل، لوبه،چاربېته کښې خپل داخلي واردات او عشقیه معاملات چېړي او په نظم کښې خارجي حالات او واقعات په ساده او عام فهم اندازکښې بیانوي۔"(6)

د عزیز الرحمان عزیز د شاعرۍ خصوصیت دا دې چې په ډېر عام او ساده انداز خپل پېغام لوستونکو ته رسوي۔د عامو او خاصو خلقو د پاره یو شان د مفهوم د پوهېدلو اساني لري ۔دغه وجه ده چې په خپل مطلب او مقصد پېش کولو کښې کامیاب دے۔

فکري جاج:

مـذهبي شـاعري:مذهبي شـاعري خـو د هغـوي د شـاعرۍ بنيـادي پېژنگلـو ده ـ د هغـوي د شاعرۍ غالبه حصه په اسلامي تعليماتو مشتمله ده ـ د مونځ ،روژې، حج ، زکات،عقيدوبيان ، اخلاقي او اصلاحي ،د خېر ښـېگړې،مدد ، اخلاص او وروولـۍ ذکر لـري ـ پـه دا قسـمه نظمونـو کښې يې نعتونه،قربان،ختم نبوت،ورکوتے اختر وغېره شامل دي ـ

دين اسلام دے مکمل څۀ نيمگړتيا نشته دے
په باطل دين کښې دې يوه ذره رښتيا نشته دے
ستا ربوه نۀ منمه خره ستا قاديان نۀ منم(7)

څوک د طور په غرۀ کښې ستا په طلب گرځي

څوک دې گوري د نمرود په سور انگار کښې

چا په حسن د يوسف کښې لټولې

چا موندلے يې الله په سر د دار کښې(8)

زۀ په رسۍ د غېرتي مذهب تړلے يمه

ساقي خفه مۀ شې له دې وجې انکار کومه

زۀ چې رکوع کښې په قومه کښې په سجده کښې يمه

دا نور څۀ نۀ دي خو رضا د خپل دلدار کومه(9)

داسې نمونې د دوي په شاعرۍ کښې د نعتونو ، نظمونو او قطعو کښې ډېر تر لاسه کېدلے شي۔

قام خوښي:

خپل قام سره مينه د انسان فطري جبلت دے او هر څوک د خپل قام د ترقۍ ،عظمت او خېرخواهۍ خوبونه ويني ۔د دوي په غم او مصيبت درديږي او خوشحالو خوشحاليږي۔دا يو انساني ضروت هم دے ځکه چې انسان بغېر له ټولنې ژوند په اسانه نۀ شي تېرولے۔

"هغه وخت کښې به د انسانانو ژوند بيخي انفرادي وۀ. خو انسان فطرتاً ځآن ته اوسېدل غوره نۀ ګڼي هغه د نړۍ منتظم دے او دهغۀ په فطرت کښې د تمدن او مدنيت مجردولو استعداد دے کۀ انسان د يو بل سره په ګډه ژوند نه وے کړے، نو هغوي به د ځنګلي ځناورو نه ځان څۀ رنګ ساتلے وے. او چې هغوي د خوراک،څښاک د سامانونو او د جونګړو او غارونو جوړولو د پاره د يو بل سره لاس نۀ کولے نو د هغوي ژوند چرته محفوظ پاتې کېدے شو"(10)

د انسان د پاره يو ټولنه کښې په شريکه اوسېدل ضروري دي۔ يو بل سره مدد کول، د يو بل په کار راتلل او په اتفاق سره اوسېدل د دوي حفاظت او بقا د پاره ډېر ضروري عمل دے ۔کۀ يو بل سره په امن، مينه او ورورولي اختيار نۀ کړي نو ژوند به يې ډېر مشکل او د مصيبتونو ډک شي۔

"د ازل نه انسان دخپل قوم او هم جنس سره مينه لري او يو بل سره مرسته، مدد او همدردي د دوئ فطري جذبه ده . کله چې انسانان په غرونو ، غارونو کښې اوسېدل او د شمېر په لحاظ کم وو. دغه وخت کښې دوي مختلفو خطرو سره مخ وو او د نورو ځناورو او قدرتي افاتو د مقابلې او تحفظ توان ئې نه لرلو. نو هغه وخت کښې ئې هم يو بل سره نېکې جذبې لرلې او څومره چې د ارتقائي مرحلو نه تېرېدل نو په دغه مشکلاتو ئې قابو هم موندلو او د وطنيت او قوميت دا جذبه ئې هم برقراره ساتلې ده." (11)

د عزيز الرحمان عزيز په شاعرۍ د پښتون قام سره د مينې محبت تاندې جذبې بې شانه او پريمانه په نظر راځي ـ هغوي په دې خبره فخر كوي او د خوشحالۍ ځرګندونه كوي چې په پښتون قام كښې پيدا دے۔ د پښتنې اقدارو او رواياتو امين دے ـ په خپل ځلنده تاريخ ناز كوي او په نوي نسل كښې دغه اخلاقي او ايجابي قدرونه ليدل غواړي ـ پښتون، پښتون ته، پښتو، راځئ چې رابېدار شو او نور نظمونه يې نمونې دي۔

عزيز سلام په هغو وايي
چې د پښتو قدر په هر وطن كوينه(12)

پښتونه ستا په ساده توب مې قسم
په دې ساده جامه كښې ښۀ ښكارې

كۀ د ايرو په مېنځ كښې ډوب پريوځې
ماته وچت لكه د غرۀ ښكارې(13)

يو مركز ته شه راغونډ ولې تار تار يې پښتونه
خپل د لاسه په دنيا كښې خوار وزار يې پښتونه(14)

راځئ چې رابېدار شو ځان د خلقو د سيالو كړو
راځئ چې دا اودۀاودۀ ضمير په ويښېدو كړو
راځئ چې د اسلافو دا ارواح په مسېدو كړو
راځئ چې پښتانۀ شو دا دنيا پښتو پښتو كړو

نظرياتي طور د باچا خان د قافلې ملګرے دے

ځوک به د جهاد چغې په هر وطن خورې کړي بیا
ماتې به پښتي ټکښې د چا شي د بابا په شان(15)

عزیزالرحمان عزیز همېشه د خپلې خاورې او وطن د آزادۍ سندرې وئېلې دي. تل یې په خپل وطن د قربانېدو درس ورکړے دے. د هغۀ د شاعرۍ روح مقصدیت دے او دغه د اولس او وطن سره په مینه اډانه دے. په خپل وطن د ننګ او غېرت ،د خپلې ژبې سره مینه او د قام اصلاح د ددوې د شاعرۍ بنیادي اړخونه دي.

ترقي پسندي:

ترقي پسندي د انسان او انسانیت د خدمت،مینې، احترام د داسې عمل نوم دے چې کلهم بني آدمو ته په یو نظر کتل او د برابر مقام او حقونو جوګه ګڼل دي. د طبقاتي لړي برې نه مبرا د انساني برابرۍ تسلیمول، حقیقت څرګندول،د آزادۍ حقیقي حېثیت راوړل او د غلامۍ خلاف رد عمل ترقي پسندي ده. د عام اولس د خېر،ښېګړې ، مرستې ،مدد ،ملګرتیا ،او د انساني حقونونو اواز او د هر قسمه ظلم ،جبر، زور زیاتي او عدم تحفظ مخه نیول دي. د خپلې مرضۍ او خپل واک مطابق د ژوند حق، د ملکي او مذهبي تفریق نه بغېر د انسانیت سره مینه محبت، تړون ، رشته ،عالمګیر مساوات او یو والې ترقي پسندي بللے شي.

"د تاریخ مطالعه دا ښیي چې د اولسونو د ژوندي او سوکاله پاتې کېدو د پاره د دوو فکرونو ضرورت وي. قامي شعور او تهذیبي شعور. اجتماعي حافظه برقرار ساتل ، د اجتماعي وسیلو لټول، ساتل او روزل، د خاورې او مزکې جمالیات خوندي کول او په مخکښې بوتلل او تېولنیز ژوند کښې د منصفانه تقسیم په بنیاد وګړو د پاره اسانتیاوې پیدا کول د قامي شعور رختونه وي. دا ټول عمل د قامي خپلواکۍ محتاجه وي. روحِ عصر پیژندل او د هغې سره څنګ تر څنګ تلل ، د انساني ارتقا ببلا ببل پړاونه پیژندل او د تخلیقي او ایجادي صلاحیتونو د

وړاندې تلو د پاره سیاسي او سماجي ماحول سازګارول د تهذیبي شعور علامتونه وي .دا هم د خپلو اکۍ نه بغبر ممکن نه وي "(16)

ترقي پسندي د انساني ټولنې د خېرخواهۍ نوم دے.د ټولنې نه کرکه او نفرت ختمول دي او ټولو انسانانو ته په یو نظر کتل دي.هر چا ته د هغۀ د حقونو رسولو کوشش دے .د عزت او احترام ورکولو هڅه ده.د زور،ظلم ،زیاتي او بد امنۍ مخه نیول دي.د طبقاتي لري بري د نظام خوصله شکني کول دي او عالمګیر انساني فکر عام کول دي.

"ترقي پسندو دانشورو بیان کړے دے د هغې تر مخه ترقي پسندي په هر دور کښې د یو داسې رجحان احاطه کوي کوم چې په خیال او فکر کښې روښانتیا او پراختیا راولي.د معاشرې تعلیمي، سیاسي، اقتصادي، مذهبي او تهذیبي وقار ته وده ورکوي.په معاشره کښې د انسان دوستۍ ، امن ، ورولۍ، رواداري، همدردۍ او سوکالۍ فضا خوروي، د زور ، ظلم، نفرت ، تعصب او دشمنۍ هغه رویې غندي کومې چې د انساني وقار د تذلیل سبب جوړېږي .د سرمائي او وسائلو د داسې استعمال غندنه کوي چې صرف یوې مخصوصې طبقې ته ئې ګټه ورسي"(17)

شاعر ادیب د ټولنې د ټولو حساسه او باشعوره طبقه وي . کله چې یو شاعر په ټولنه کښې بې انصاقي، حق تلفي،جبر،ناروا ،لوږه، تنده،استحصال،لرې برې، زور او ظلم ګوري نو د هغې خلاف مضبوط مزاحمت څرګندوي. اولس بېداروي او د دې خلاف د حرکت او ولولې سبق ورکوي.او هم دغه طرز عمل مونږ ته د عزیز په شاعرۍ کښې ښکاره په نظر راځي.

ژوند د انسان سره د مینې نوم دے
بغېر د مینې کاروبار نۀ شي(18)

راځئ راپاسئ د غمازو غلو نه څنګ چې وکړو
دغو باطلو طاقتونو سره جنګ چې وکړو

خو اواز دا وکړئ چې مونږه مساوات غواړو
دغه زاړۀ او پخواني رسمونه مات غواړو
نور به د خانانو په اختر کښې سلامي نۀ کړو
بیا به هیڅ قسم دے د هیڅ چا څۀ غلامي نۀ کړو
اوس په مونږه شوے دے لوي فضل د سبحان(19)

داسې ډېر نظمونه لکه "د وطن په ننګ"، "دا څنګه مسلمان یې"، "یوم صحت"، "نشئي"، "اے زلمیه" او نورو کښې یې د ترقي پسندۍ نخښې تر نظره کیږي داسې د هغوي چاربېتو، قطعاتو او غزلو کښې یې هم نمونې مخې ته راځي.

# حوالې


1 : قاري امان الله خان،زما خبرې،مقدمه،خاورې امیدونه،مانسهره،۲۰۰۷،مخ،۱۵۔

2 : اسماعیل گوهر،تخلیق کار تل ژوندے وي ،مشموله ،خاورې امیدونه،مخ،۶۔

3 : ډاکټر محب وزیر ،مقاله ،د عزیز الرحمان عزیز ژوند او فن (سیمینار) مانسهره پښتو اکېډمي، ۳۰ اگست، ۲۰۲۵۔

4 : محمد محسن،د پروفېسر عزیز الرحمان عزیز ژوند او فن،ورځپاڼه وحدت،۱۶ جولائي،۲۰۲۳

5 : غالب ترین ،فرهاد محمد ،د پروفېسر عزیز الرحمان عزیز، ژوند او فن،سیمینار،مانسهره پښتو اکېډمي، ۳۰ اگست ۲۰۲۵۔

6 : اسماعیل گوهر، تخلیق کار تل ژوندے وي ،مشموله ،خاورې امیدونه،مخ،۷۔

7 : عزیز الرحمان عزیز،خاورې امیدونه،بټگرام ،مانسهره،۲۰۰۷ ،مخ، ۸۱۔

8 : خاورې امیدونه،مخ۶۴۔

9 : خاورې امیدونه ،مخ،۹۳۔

1o : امیر حمزه شنواري، ژوند ، پېښور ، جدون پرنټنگ پریس، کال نۀ لري، مخ،: **۷۵**۔

11 : فقیر محمد فقیر،د ایوب صابر په شاعرۍ کښې د قام تصور،مشموله ،پښتو،پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي،جنوري ، جون،۲۰۱۵ ،مخ، ۱۰۱۔

12 : خاورې امیدونه،مخ، ۱۷۰۔

13 : خاورې امیدونه،مخ،۶۳.

14 : خاورې امیدونه ،مخ،۸۴.

15 : خاورې امیدونه ،مخ،۴۵.

16 : ډاکټر خادم حسېن ، د قامي شعور ببلاببل اجزا ،مشموله ،نظرونه،۴،مرتنین ګوهر وزیر او دیدار وزیر،پرمختګ بنو ښار،۲۰۱۷ ،مخ۲۶

17 : محمد حنیف،په پښتونخوا د ترقي پسند تحریک او د پښتو د ترقي پسندې شاعرۍ تحقیقي او تنقیدي جائزه،کوېټه،۲۰۱۲ ،مخ،۹

18 : خاورې امیدونه ،مخ،۶۹.

19 : خاورې امیدونه ،مخ،۴۵.